# د نفرت يا تعصب جرم راپور ورکولو پرمهال د پوليسو سره د راکړه ورکړه لپاره لارښوونې

د پوليسو راپور جوړولو پرمهال د قربانيانو او شاهدانو لپاره ملاحظات.

Oregon Department of Justice's CIVIL RIGHTS UNIT

# د اوریګون د ایالت په کچه د DOJ د تعصب ته غبرګون هاټلاین

**د تعصب ته غبرګون هاټلاین (غیر بیړنی هاټلاین)**

1-844-924-BIAS (2427)

دوشنبه – جمعه د سهار 9 – ماښام 5 بجې

په 240+ ژبو کې ژباړه

موږ د ریلی ټول تلیفونونه قبلوو

هرکله کولی شئ آنلاین دلته

StandAgainstHate.Oregon.gov

راپور ورکړئ

* هاټلاین د **ټولو** نفرت جرمونو راپور ورکولو برخه کې مرسته کولی شي

* تاسې اړ نه یې پخپله یې اټکل کړئ، حتی د دې سلایډونو د لوستلو وروسته هم

# د پولیسو سره د راکړه ورکړه لپاره لارښوونې

## چیرې او کله زه راپور ورکړم؟

- **چیرې چې جرم پیښ شوی هلته د پولیسو ادارې ته راپور ورکړئ**
  - حتی که تاسې اوس په بل ایالت کې یې، تاسې باید هماغه پولیسو ماموریت ته راپور ورکړئ چې د پیښ شوي جرم ښار یا ایالت کې موقعیت لري
  - تاسې کولی شئ د تلیفون له لارې راپور ورکړئ
- **په وخت د راپور ورکول مهم دي**
  - ځینې وختونه شواهد (لکه ویډیویي ریکارډ) ډیر ژر له لاسه ځي.
  - ځینې وختونه یې موده انقضاء کیږي
- **د پولیسو ادارې هیڅ مراتب سلسله شتون نلري**
  - که ستاسې د هغه ښار د پولیسو ماموریت ځواب خوښ نه وي چیرې چې جرم پیښ شوی، د شیرف دفتر، د اوریګون ایالت پولیس، FBI، د اوریګون DOJ، او د امریکا متحده ایالاتو DOJ د هغوی مشران ندي.
- **راپور ورکړئ کله او چیرې چې تاسې د راحتۍ احساس کوئ**

# د پولیسو سره د راکړه ورکړه لپاره لارښووني

## چمتو والی

- داسي یوه ځای او وخت کې د لیدو لپاره غوښتنه وکړئ چې ستاسې لپاره ارام وي
  - آیا تاسې خپل کور، کافي شاپ، د پولیسو ماموریت یا مجازي ناستې ته ترجیح ورکوئ؟
- د ژباړونکي غوښتنه وکړئ
  - غوره دا ده چې تاسې خپلو خبرو کې خورا واضح اوسئ او په هرڅ مکمل پوهه شئ
- د لاسرسي ورتیا لپاره د اړتیاو غوښتنه وکړئ
  - "زه معیوبیت لرم او زه د مناسب بندوبست غوښتنه کوم"
- د یوه داسي ملاتړ فرد غوښتنه وکړئ چې تاسو ورباندې باور لرئ ترڅو ستاسې ملتیا وکړي
  - تاسې باید 15 کلن اوسئ یا ډیر عمر ولرئ
  - د ملاتړ فرد باید 18 کلن یا ډیر عمر ولري او شاهد نه وي

# د پولیسو سره د راکړه ورکړه لپاره لارښوونې

## چمتو والی

- د هغه شیانو لیست ولیکئ چې تاسې غواړئ خپل راپور کې یې شامل کړئ
  - نیټې
  - وختونه
  - ځانګړې ژبه/چلند
  - د تعصب شاخصونه
  - شاهدان، پشمول د نورو هغوی چې تاسې ورته ویلي دي
  - مخکینۍ پیښې
- کومې پوښتنې چې تاسې لرئ یو لیست یې ولیکئ
- په یاد ولرئ، تاسې اړ نه یې حل یې کړئ یا په اړه یې پوهه ولرئ

# د پولیسو سره د راکړه ورکړه لپاره لارښوونې

## چمتو والی

### د تعصب شاخصونو لیست بیاکتنه وکړئ

- **توپیرونه**، آیا د مشکوک لخوا د قرباني واقعیی یا ګڼل کیدونکي نژاد، رنګ، ملیت، جنډر، د جنډر شناخت، ملي اصل، دین، جنسي لیدلوري، د معیوبیت وضعیت یا نورو کلتوري ځرګندونو کې.
- قرباني د یوه ځانګړي ګروپ یا هویت لپاره تبلیغاتي یا دفاعي **فعالیتونو** کې بوخت و.
- آیا پیښه د **رخصتی** یا کومې ځانګړې نیټې پرمهال شوې چې قرباني یا د مشکوک فرد ګروپ ته ځانګړی اهمیت لري.
- د تعصب اړوند **ژبه، لیکلي بیانونه، یا د مشکوک فرد لخوا شوي** حرکتونه.
- د تعصب اړوند **رسامۍ، نښې، سمبولونه، او ګرافیتي د** مشکوک په لباس، فرد، یا ملکیت د پیښې صحنه کې پاتې شوي.
- **شیان، توري یا مواد** پاتې شوي و چې د نفرت منظم ګروپونو د کار استازیتوب کوي (لکه سپیني خولئ، سوځیدلي صلیبونه، دار وغیره).
- په ورته **موقعیت کې ترسره شوي د تعصب مخکیني جرمونه**.
- موقعیت د ګروپ لپاره د **خوندي، ځانګړي، راتولیدو یا سپیځلي ځای** استازیتوب کوي.
- قرباني یا شاهدان **ګڼي** چې د پیښې **انګیزه** تعصب و.
- مشکوک **مخکې په ورته پیښه کې دخیل** و یا د **نفرت منظم ګروپ** غړی دی/ورسره تړلی دی.
- مشکوک په حضوري توګه او/یا آنلاین د **نفرت فعالیت کې ښکیل دی**.
- قرباني مخکې د هدف لاندې ګروپ سره د هغه د تړاو پربنسټ **ځورول شوی یا په شفاهي ډول ورسره ناوړه چلند شوی و**.
- **د پیښې لپاره د نورو انګیزو** نه شتون.

# د پولیسو سره د راکړه ورکړه لپاره لارښووني

## راپور ورکول

- د "نفرت جرم" ټکي وکاروئ، تعصب نه
  - د نفرت جرم په نړیواله کچه ډیر درک شوی دی
- پدې اړه مشخص اوسئ چې تاسې ځنګه پوهیږئ تاسې هدف وئ
  - دقیق هماغه سپکاوي ټکي راپور کړئ چې تاسې اوریدلي
  - تشریح کړئ چې ځنګه دې ژبې ستاسې واقعیې یا ګټل کیدونکې هویت هدف ګرځولی
  - د تعصب شاخصونه شرح کړئ
  - خپل موقعیت یا نیته تشریح کړئ، که اړوند وي
  - نفرت پورې تړلي کالي، سمبولونه، نښې، یا ټاټوګان شرح کړئ چې تاسې لیدلي
- ټول تفصیلات تشریح کړئ (غږونه، بوی، حرکتونه وغیره)
  - دا بل جرم پورې تړاو درلودلی شي، یا د تعصب انګیزې ثابتولو پورې تړاو درلودلی شي
- د ملکیت تخریب یا زیان د ټاکلي ډالر مقدار/ارزښت سره راپور کړئ
  - ډیر ګران/احساساتي = $0 ډالر
  - د تخریب/زیان ارزښت مشخص کوي چې کوم جرم وربانديې پورې کیدی شي

# د پولیسو سره د راکړه ورکړه لپاره لارښوونې

## راپور ورکول

- د درد راپور ورکړئ
  - مه يې سختوئ
  - هیڅ درد/تپ یعني د اوریګون قانون لاندې د برید هیڅ تور نه
  - د درد کچه، که درد دوام درلود، که ټپونو ستاسې استعمال/حرکت مختل کړی يې مشخص کوي چې کوم جرم وربانديې پورې کیدی شي
- په قوانینو استناد وکړئ
  - د تعصب پېښه، ORS 147.380
  - د دوهمې درجې تعصب جرم، ORS 166.155
  - د لومړۍ درجې تعصب جرم، ORS 166.165
  - د دار ځرګندولو په واسطه ویرول، ORS 163.191
- د تعصب پیښو لپاره هاټلاین ته هیڅ رجعت نه؟ خپل معلومات شریک کړئ، هغوی څخه حساب وغواړئ
  - ORS 147.380(2) د پولیسو څخه غواړي د تعصب پیښو قربانیان وړ ځایی قربانیانو خدمتونو یا د ایالت په کچه د تعصب غبرګون هاټلاین ته راجع کړي

# د تعصب انګیزې برخې

- د اوریګون د تعصب جرمونو لپاره، **نفرت یا تعصب یوه ونډه لرونکې انګیزه کیدی شي؛ دا کیدی شي د مرتکب *یوازینی* انګیزه** نه وي.
  - د مثال په توګه، یو ډرایور کیدی شي ستاسې ډریورۍ څخه "لیونی" شي، قصدآ ستاسې موټر ووهي، او بیا تاسې ته سپکاوی وکړي، او دا د تعصب جرم کیدی شي.

**ایالت پروړاندې د هینډریکس**،

107 Or. App. 734 (Or. Ct. App. 1991)

د اوریګون د سترې محکمې لخوا تایید شوي په Or 314. (1992) 170 کې

"مدعي علیه، د کوم واک په ګوته کولو پرته، دا استدلال هم کوي چې ایالت باید ثابت کړي چې یو یا ډیر افراد *یوازې* یا *اصلاً د عمل کولو لپاره د هغوی د قرباني د نژاد، رنګ، دین، ملي اصل یا جنسي لیدلوري* له امله انګیزه پیدا کړې." موږ موافق نه یو ... د قانون جوړونکو لخوا انتخاب شوي ژبې پرمختګ کې هیڅ شی د ویرولو جرم جوړولو لپاره لازمي د غیرقانوني انګیزې سلنې مقدار نه مشخص کوي. د دې په مخ کې، د ویرولو قانون جنایي مسؤلیت رامینځته کوي کله چې غیرقانوني انګیزه د ممنوع شوي چلند کې کوم رول ولوبوي."

# د پولیسو سره د راکړه ورکړه لپاره لارښوونې

راپور ورکول

- د پولیسو افسر څخه غوښتنه وکړئ چې راپور ولیکي
- پرمهال یې یا سمدلاسه وروسته یادداشتونه واخلئ
  - د افسر مکمل نوم څه و چا چې ځواب ورکړ؟ د بیج شمیره؟
  - د پولیسو کومې ادارې ځواب ورکړ؟
  - د افسر د سوداګریز کارت غوښتنه وکړئ
  - د کیس لمبر او د CAD # غوښتنه وکړئ
  - په کوم وخت چې تاسې راپور ورکړی هغه یادداشت کړئ
  - د شاهدانو څخه د هغوی د نومونو او د اړیکې معلوماتو غوښتنه وکړئ
  - د شاهدانو د جواز پلیټونه ولیکئ

# د پولیسو سره د راکړه ورکړه لپاره لارښوونې
## تعقیب

- پوښتنه وکړئ چې نور به څه پیښ شي، او کله
- پدې اړه پوښتنه وکړئ چې څنګه د افسر، څارنوال، یا د قرباني وکیل سره په اړیکه کې شئ
- تاسې کولی شئ د پولیسو د تعقیب لپاره بل فرد د اصلي اړیکې په حیث وټاکئ
  - که هغوی ستاسې لپاره د شواهدو پوښتنې لري، هغوی ممکن بیاهم اړ اوسي تاسې سره وغږیږي
- پوښتنه وکړئ چې څه وکړئ که نور جرمونه یا پیښې موجود وي چې پیښیږي
- د تعقیب ټولو راکړو ورکړو په اړه یادداشتونه واخلئ

غواړئ پوهه شئ د مدني حقونو واحد څه کار
کوي؟ موږ په ټولنیزو رسنیو کې تعقیب کړئ!

Oregon Department of Justice's
CIVIL RIGHTS UNIT